# دَ سیف الرحمان سلیم پهٔ شاعرۍ کښې قام پرستي:-

Dr. Sohail Khan

ډاکټر نصرالله خان اسسټنټ پروفېسر اسلامیه کالج یونیورسټي پېښور

سیف الرحمان سلیم دَ پښتو نوې شاعرۍ نمائنده شاعر پهٔ کال ۱۹۲۹ کښې دَ داؤدزو تپې پهٔ ګلوزو نومې کلي کښې دَ سرګرم خدائي خدمتګار جلال شاه پهٔ کور کښې دې فاني دنیا ته تشریف راوړے ؤ.

دَ سلیم شاعري دَ خوارانو، مزدورانو او بې کسه غریبانو ترجمانه او دَ زړهٔ اواز دے. دَ ظلم او جبر خلاف ئې قلمي جهاد کړے دے. هغهٔ دَ دردېدلي او غم زپلي انسان دَ مات زړهٔ ترجمان شاعر ؤ. دَ سلیم پهٔ شاعرۍ کښې دَ قام پرستۍ عنصر ډېر غالب دے. قومي شاعرۍ هغه شاعري وي پهٔ کومه کښې چې دَ خپل خوږ وطن سره دَ خوږې مینې اظهارشوے وي او دَ دشمن او غاصب خلاف پهٔ کښې دَ قوم جذبات راپارولے شوې وي. ډاکټر یار محمد مغموم دَ قومي شاعرۍ پهٔ حقله لیکي

" دا شاعري دَ مقصدي شاعرۍ هغه قسم دے چې پهٔ کښې براه راست قومي مسائل بیانېږي. دَ قومي ژوند سره تړلي هر قسم پېښې دَ دې شاعرۍ پهٔ لمن کښې رانغښتي وي. پهٔ دې شاعرۍ کښې دَ قوم افرادو ته خپل مرضونه پهٔ ګوته کېږي. دَ هغوي دَ اصلاح هره نسخه پهٔ دې شاعرۍ کښې  موجوده وي. دَ دې شاعرۍ شاعر دَ قوم خواخوږي او بد خوا پهٔ رنګ رنګ طریقو پهٔ ګوته کوي. قوم دَ ازادۍ دَ اهمیت او قیمت نه خبروي. دَ غلامۍ دَ ژوند دَ خرابو او مذمومو اړخونوغندنه کوي. دَ قومي ثقافت دَ تحفظ لارې چارې متعین کوۍ او دَ خپلي مورنۍ ژبې هغوحقونو ته اشارې کوي چې دغه ژبه ئې پهٔ خپلو ویونکو باندې لري ـ" ۱   مخ ۹

پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم، دَ ازادۍ تحریک او پښتو شاعري، یونیورسټی بک ایجنسي، خېبر بازار پېښور، مئی ۲۰۰۷ء مخ ۹

سلیم بهٔ بنیادي توګه یؤ قام پرست شاعر ؤ هغه دَ خپل کلام پهٔ وړمبي غزل کښې دَ خپل قام سره مینه داسې ښکاره کوي:

سلیمه! سم دې کړه غزل شرعي ته

لړ پهٔ کښې ذکر دَ خپل قام کوه....۲۵

شاعران دَ معاشرې سترګې وي اؤ ورسره ترجمانان هم وي. کله چې پۀ کلي، وطن يا قوم خوشحالي يا تکليف راځي نو دَ ټولو وړومبے شاعر دَ خپل قوم ترجماني کوي، کۀ خوشحالي وي نو دَ مستی، جوش اؤ جذبې سندرې ليکي اؤ کۀ چرته پۀ قوم تکليف راځي نو بيا دلته شاعر دَ ګُل و بُلبل، خال و کاکل اؤ شونډو و وربل سندرې نۀ وايي بلکې هغه دَ راتلونکو ستونزو خبردارے ورکوي. دَ قوم اودۀ جذبات راپاروي. قوم ته دَ هغوي کمزورئ نۀ يوازې پۀ ګوته کوي بلکې دَ دغه کمزورو اؤ رنځونو علاج هم ښايي. پۀ مشرقي ژبو کښې اکثرو شاعرانو پۀ قومي شاعرئ دَ خپل کلام رنګ اؤ خوند سېوا کړے دے. لکه چې دَ پښتنو اؤ پښتو ژبې اؤ ادب بابا خوشحال خان خټک پۀ قصيده "دَ پښتون نه ګيله اؤ دَ مغل سره پتنه" کښې وايي:

بيا لۀ کومه راپيدا شو دا بهار

چې پۀ هر لوي ئې ملک کړو يؤ ګُلزار

پښتنو زلميو بيا لاسونه سرۀ کړو

لکه باز منګلې سرې کړه پۀ خپل ښکار

ايمل خان دريا خان دواړه مرګ ئې مۀ وے

هيڅ تقصير دوړو وَنۀ کړ وار پۀ وار.. ۱۶۷..۱۶۸

دغه شان بيا پښتنو ته دَ مغلوالي خلاف علاج هم ښايي چې:

پښتانۀ چې نور څۀ فکر کا ناپوهـ دي

بې دَ تۆرې خلاصے نشته پۀ بل کار

تر مغلو پښتانۀ پۀ تُوره ښۀ دي

کۀ پۀ پوهه پښتانۀ وے څۀ هوښيار...مخ۱۶۹

پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم، دَ خوشحال خان کليات، يونيورسټي بک ايجنسي، خېبر بازار، پېښور، ۲۰۱۶ء مخ

دغه شان دَ پښتو ژبې اؤ ادب لۀ ټولو مقبول صوفي شاعر عبدالرحمان بابا هم دَ ننګيال تصوّر وړاندې کوي چې:

زغره واغونده ملا وتړه په جنګ

دغه پسه معرکه کوه دَ ننګ

وَ بې ننګ وَ ته دَ ننګ خبرې مۀ کړه

یا ځان وګڼه په خپلو وینو رنګ

ننګیالے چې یؤ ځل مخ په هغه لور کا

نور هیڅ نۀ ویني کوهے وي کۀ ګړنګ...مخ ۱۲۲

دوست محمد خان کامل وَ قلندر مومند، دَ رحمان بابا کلیات، افغان پرنټرز، کابل، ۱۹۸۳ء مخ ۱۲۲

دغه رنګ دَ اردو ژبې اؤ ادب متصوّفي شاعر میر تقي میر هم دَ خپل وخت دَ دهلي حالات په شعر کښې رانغاړي چې:

دلّی میں آج بھیک بھی ملتی نہیں انھیں

تھا کل تلک دماغ جنھیں تاج و تخت کا...مخ۱۶۴

په بل شعر کښې جهان اباد یادوي چې:

اب خرابا ہوا جہاں آباد

ورنہ ہر اک قدم پہ یا گھر تھا.مخ ۱۸۲

کلب علی خان، کلیاتِ میر، مجلسِ ترقی ادب لاہور، جلد اول،طبع دوم، جون ۱۹۸۶ء ص

دَ اردو ژبې دَ ټولو نه مقبول شاعر مرزا اسدالله خان غالب هم په خپل کلام کښې ځائې په ځائې دَ خپل ملک، اولس اؤ بادشاهانو ذکر کړے دے لکه چې دَ خپل وخت حالات بیانوي:

بادشاہی کا جہاں یہ حال ہو غالب! تم پھر

کیوں نہ دِلّی میں ہر ناچیز نوّابی کرے ..ص ۱۰۹۰

مولانا غلام رسول مہر، نوائے سروش، غلام علي پرنټرز، لاہور، س ن ص ۱۰۹۰

په حقیقت کښې شاعر دَ قوم تقدیر بدلول غواړي، دَ دغه بدلون دَ پاره هغه قسما قسم لارې

خپلوي. سلیم هم په دغه معمارانو کښې شامل دے دَ قوم په خوشحالئ خوشحالیږي اؤ په درد ئې دردیږي. ځکه چې دَ هغه احساس ژوندے ؤ. دَ طبقاتي نظام نه ګیله مند شاعر ؤ لکه چې وائي.

دَ وړو وړو خدایانو دې بنده کړم

لویا خدایا زۀ به چا چا ته سجدۀ کړم

ملګرتیا کۀ څو رندان راسره وکړي

دا الم به یوه لویه مېکدۀ کړم...۴۷

سیف الرحمان سلیم، د وړو وړو خدایانو دې بنده کړم، یونیورسټي پبلشرز، افغان مارکیټ، قیصه خواني بازار، پېښور، چاپ اول مارچ ۲۰۰۸ء

سلیم په یوه داسې کورنۍ کښې سترګې غړولي وې چې ټول عمر ئې دَ فرنګي خلاف بېرغ اوچت کړے ؤ. دَ ماشوموالي په عمر کښې ئې باچاخان بابا اؤ مهاتما ګاندهي لیدلي اؤ اؤریدلي وو. په هلکوالي کښې ئې دَ مولانا ابوالکلام ازاد، ګاندهي جي، پنډت جواهرلال نهرو، کرشن چندر اؤ سعادت حسن مېنټو په سیاسي اؤ ادبي محفلونو کښې ناسته پاسته کړې وه دَ انجمن ترقي پسند مصنفین، دَ اولسي ادبي جرګې اؤ دَ ساهو لیکونکو مرکه په بنیادي غړو کښې هم شامل ؤ. هم دغه جذبه وه چې هغۀ ئې دَ محکوم انسانیت، دَ اولس ، دَ خپلې خاوړې اؤ خپلې ژبې ترجمان اؤ لاربسود جوړ کړے ؤ. لکه چې دَ خپل نوي ګُل مستقبل ته دَ شعر په خوږه، پسته اؤ اثر ناکه ژبه اشاره کوي چې

نوے ګُل به دَ ماضي نه منحرف کړي

پښتتو نخوا کښې دَ مغلو مکتبونه...۲۰۴

کۀ ربښتیا خبره جرم وي ما وکړه

څۀ راوا دې خله صیاده! ځنځیرونه

چې ئې ژبه شي فنا ملت فنا شي

په تاریخ کښې داسې ډېر شته مثالونه

څۀ باور دے چې په ما به ئې وَ نۀ کړي

چا چې کړي دي خوشحال باندې ظلمونه...۲۰۵

سليم يو مينه ناک، نرم خو، پوست او خوږ ژبے شاعر او انسان ؤ. دَ هغۀ پۀ شاعرئ کښې پۀ هره موضوع شعرونه مؤجود دي ولې پۀ بنيادي توګه هغه يو قام پرست، مقصدي، ترقي پسند او انقلابي خو ورسره يو روماني شاعر هم ؤ. سليم راز ئې دَ شعري تخليق پۀ حقله ليکي

" سليم دَ خپل عهد دَ انسان دَ مسائلو او اجتماعي نفسياتو نه خبر دے هغوي دَ اولس غمونه او دردونه پۀ تخليقي طور دَ خپل زړۀ او ضمير پۀ غږ کښې بدل کړي دي.دَ هغوي احتجاج خپل يو تهذيب او مهذبه رويه لري، چې دَ اظهار پۀ هنر پوهېږي يعنې دَ هغوي احتجاج دَ يو مهذب او مؤدب انسان احتجاج دے. دا شان پۀ مجموعي توګه دَ هغوي غزل دَ خپل قام دَ تهذيبي مزاج نمائيده او دَ خپل عصر دَ فکري صداقت ترجمان او عکاس دے۔ " مخ ۹

سيف الرحمان سليم، دَ وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، يونيورسټي پبلشرز، افغان مارکيټ، قصه خواني بازار، پېښور، مارچ ۲۰۰۸ء مخ ۹

سليم دَ زړه نه صفا او رشتنے ؤ هر څۀ ئې بنۀ پۀ جار وئيلي دي

دَ سليم پۀ شاعرئ کښې قام پرستي ډېره پۀ انقلابي انداز کښې بيان شوې ده. روښان يوسفزے سليم پېدائشي قام پرست ګڼي لکه چې ليکي

" سيف الرحمان سليم هم پښتو ادب کښې دَ يو فرد نۀ بلکې دَ يو شخصيت نامه ګرزېدلې ده او پۀ يو لحاظ هغۀ پېدائشي قوم پرست او ترقي پسند او بشر دوست شاعر دے ځکه چې دَ خدائي خدمتګار تحريک دَ يو سرګرم غړي سيد جلال شاه پۀ کور کښې ئې دَ اپرېل پۀ وړومبۍ نېټه کال۱۹۲۹ء کښې سترګې وغړولې ـ " مخ ۱۸

دَ خپلې خاوړې سره محبت کول دَ ايمان يو لازمي جز دے. سليم هم پۀ خپله خاوره مئين دے او دَ خپلې خاوړې سره خپله مينه پۀ دا ډول څرګندوي.

خړه خاوره دَ وطن مې محبوبا ده

دا زما ده، هم زما ده، بس زما ده

کومه اوښکه چې مې ستا پۀ لمن توي شي

هغه اوښکه ملغلره بې بها ده...۳۵

دَ نړۍ په تاريخ کۀ نظر وغورځولے شي نو ښکاره ده چې دَ وطن اؤ قوم دَ پاره بلها جنګونه اؤ هجرتونه شوي دي. تاريخ ګوا دے چې کله هم ضرورت پېښ شوے دے نو دَ پېغمبرانو نه واخله تر دې دمه قومونو ټُوره ټوپک راخستے دے اؤ دَ دشمن مقابله ئې کړې ده. دغه سلسله لا مخ په وړاندې روانه ده. کۀ چا ټوپک ته لاس کړے نو شاعر هم غلے نۀ دے ناست اؤ نه يوازې تماشبين جوړ شوے بلکې دَ هر ظلم اؤ جبر خلاف ئې دَ شعر په خوَږه اؤ قامي ژبه اواز پورته کړے دے. دَ قومونو په تاريخ کښې چې په ځينې موقوع شاعرۍ کوم انقلابونه راوستي دي، هغه لوي لوي جنګونو هم نۀ دی راوستي. لکه دَ ملالي تاريخي ټپې چې دَ جنګ نقشه بدل کړې وه دغسې په يورپ کښې ډېر مثالونه زمونږ په وړاندې دي چې محرک ئې صرف شاعري وه. سليم هم دَ خپل غريب اولس دَ پاره دغه دَ شعر وسيله پکار کړې ده دَ خپل وطن دَ پاره دَ الله تعالىٰ نه لاس په دعا دے چې

دَ زړۀ وينې ورکووم چې آسوده وي

ستا غمونه دې خدائې نۀ کړي چې نَهَر شي

دَ ګُلونو خصمانه کښې مې قبول دے

کۀ وجود مې په ازغو پرهرپرهر شي

دَ وطن ناوې دې خدائې نۀ کړي سر توره

زما ژوند دې پرې ورخور لکه څادر شي

ستا دَ زلفو يؤ وېښتۀ نه به ئې څار کړم

کۀ حاصل راته دؤلت دَ بحروبر شي...۵۴

دا يؤ کوټلے حقيقت دے چې تر څو دَ شاعر په جذبه کښې اخلاص نۀ وي دَ هغه شاعري دَ قوم جذبات اؤ احساسات نۀ شي رالړزولے.

دَ سليم په شعري پېغام کښې اخلاص اؤ صداقت دے دومره ډېر چې دَ هغۀ کلام پرې رنګين اؤ ښائسته ښکاري. لکه چې دَ زړۀ خبره کوي:

زۀ مغل ورونه ګنم خېر ئې غواړم

دا ظالمان را پسې شر ګرزوي....۸۵

دَ سماجي اؤ سياسي حالاتو پوخ شعور، دَ احساساتو شدت، دَ جذبې صداقت، بې سا ختګي، مزاحمت، رجائيت وغېره دَ هغۀ دَ کلام انفرادي خصوصيات دي. دَ ژوندي قوم شاعر هم تل ژوندے وي.هغه دَ خپل قوم سره بۀ هره معرکه کښې پۀ خۀ نۀ خۀ حالت کښې کلک ولاړ وي. دَ پښتنو پۀ سيمه داسې بلها واقعات دَ تاريخ پۀ پاڼو کښې سمبال پراتۀ دي پۀ کومو کښې چې شاعران پۀ وړومبي صف کښې ولاړ وو اؤ دَ غليم مقابله ئې کړې ده. سليم هم دغه کار ښۀ پۀ جار کړے دے اؤ دَ حقيقت نه پردۀ اوچتوي چې:

زړګيه نن يوه تپه شه قام راوَلړزوه

هسې دې خپله مرئ وچه کړه پۀ ځار اؤ قربان

سليمه چپ شه ګاونډي دې ناخبره نۀ دے

ښنګه نازل شُو اُسامه، چا زېږول طالبان...۱۸۰

پښتون تل غمونو لۀ پيدا دے اؤ دَ ستونزو سره مخ پاتې شوے دے ولې پښتون چرته هم دَ غېرو غلامئ ته ښت نۀ دے ټيټ کړے. دَ پښتون سره تل درغلي شوې ده پۀ هر ځائې کښې استعمال شوے دے ولې بيا هم پۀ هر مېدان کښې جګه شمله پاتې شوے دے اؤ دا ځکه چې پښتون کښې اخلاص اؤ صداقت دے. سليم دَ بد نصيبه پښتون دغه نقشه داسې راکاږي.

لاسونه پښې زما آزاد شُو خو روزګار بندي شو

ځېرے دَ خۀ خبرې واخلم چې آزاد شُومه...۱۹۱

ولې بل اړخ ته زمونږ پۀ سيمه داسې ډېر پښتانۀ مؤجود دي چې تش پۀ نامه پښتانۀ دي. ټول کارونه ئې بې پښتو دي. دَ خپل پښتون ورور لاسونه اؤ پښې پۀ خپله غوځوي. دَ خپلې خاوړې اؤ اولس سؤداګري کوي. هم دَ دغه قسمه خلقو دَ لاسه نن پښتون خوار اؤ زليل دے. داسې خلقو ته سليم مخاطب کېږي اؤ اولس ته ئې پۀ ډاګه کوي چې:

خرڅوي ئې رهبران پۀ سؤداګرو

خدائې دې مل شي دَ وطن اؤ دَ ملګرو...۱۳۱

بل ځائي داسې وائي.

دا سړے څوک دے؟ چې ما هم وژني اؤ تا هم وژني

رڼا خو وژني خو استاذ مې دَ رڼا هم وژني ...۱۷۸

شاعري په ټولو فنونِ لطیفه کښې یؤ داسې سپېځلے فن دے چې دَ ژوند په هر ډګر ئې انقلابونه راوستې دي . شاعري دَ علم یؤه بهترینه ذریعه ده اؤ دَ شاعر کار اولس ته درس ورکول دي سجاد باقر دَ شاعر په حقله دَ ورډورتهـ حواله نقل کوي چې

" عظیم شاعر لوگوں کے احساس کی تنظیم کرتا ہے. انہیں نئے احساسات سے روشناس کرتا ہے، احساس کو شائستگی، پاکیزگی اور استقلال عطا کرتا ہے.مختصراً یہ کہ وہ احساسات کو فطرت سے ہم اہنگ کرتا ہے یعنی ابدی فطرت سے جس سے تمام اشیا کو تحریک ملتی ہے ۔" ص ۱۹۶

سجاد باقر رضوي،مغرب کی تنقیدی اصول،مطبع عالیه،۱۲۰/۵ ټمپل روډ، لاهور، چاپ دوم اکتوبر ۱۹۷۱ء مخ ۱۹۴

دَ دې حوالې په ترڅ کښې دَ شاعر کار دَ اولس اوده جذبات راپارول، انساني معاشرې ته علم ورکوَل اؤ رسوَل اؤ په اولس کښې دَ صبر اؤ برداشت ماده پیدا کول دي. سلیم هم دَ شعر نه دغه کار اخستے دے اؤ خپل اولس ته ئې دَ بې دارئ غږ کړے دے.

تل دَ پښتنو مشران، قاضیان اؤ ملایان په زرو خرڅ شوي دی اؤ لا خرڅېږي. دا دَ پښتون لویه کمزوري ده چې دولت ته دَ ټینګې نهٔ دے. سلیم دَ دغه حقیقت نه پرده لرې کوي چې:

دا رموز دَ مملکت دے چې خوشحال ئې بؤ بلا کړو

ګنې هر چا ته معلوم دے بلا نهٔ ده بنیادم دے

په هنر ئې لېونے کړم چې ترل مې لړ اسان شي

لاثاني ئې هر جواز دے منفرد ئې هر ستم دے

دَ قاضي باره کښې خلق دَ دې کلي داسې وایي

چې ضمیر ئې په دینار دے نو مسند ئې په درهم دے

دا پښتون قلم مې ولې ستا په سترګو کښې ازغے دے

دا خو ستا دَ کور ښائست دے دا خو ستا دَ ورور قلم دے..مخ۸۱

سلیم چې په معاشره کښې څۀ ښۀ بد لیدل هغه ئې دَ شعر په منصیفه ژبه اولس ته په ډاګه کړي دي هغۀ یو ځیګ پښتون ؤ دَ چا نه ئې وېره ترهه نۀ کوله ځکه خو وائي.

مونږ خو ملګریو چې څۀ وینو هم هغۀ وایو

خلق خو لۀ وېرې نیمې شپې ته هم غارمۀ وائي...۷۳

دا هم یوۀ کوټلے حقیقت دے چې دَ پښتنې خاوړې دُشمن دَ بهر نه نۀ دے راغلے بلکې دَ دې خاوړې پیدا دے. په څۀ نۀ څۀ طریقه پښتون اولس اؤ خاوره ختمول غواړي. سلیم دَ شعر په خوږه ژبه دغه کرک جنو، مکر جنو اؤ ټګجنو ته خبردارے ورکوي کوم چې دَ پښتنو زرخېزه خاوره په آباسین ډوبول غواړي سلیم ورته وائي:

لګولے چې ئې چم کښې هر خوا اور دے

هم هغۀ سره پیوست دَ سلیم کور دے

اباسینه! چې ډوب نۀ شي ډوب مې نۀ کړې

ستا په غاړه زما کلے زما کور دے

کراچۍ، کوېټه، ملتان ئې خوارۀ ورونه

خو لاهور دَ پېښور مېرنے ورور دے

مونږ چې خپلو کښې وک وک شُو کور مو بائیلو

وائي کور خو دَ هغۀ چې دَ چا زور دے...۱۵۱

اؤ بیا په بل ځائې کښې ځان ته مخاطب کېږي چې:

دَ هغۀ نه ستا دَ خېر طمع عبث ده

چې فائده ئې ده سلیمه! جنګ جدل کښې...۱۷۸

دغه زورور اؤ شتمن په دې نۀ پوهېږي چې په خپل اولس ظلم کول خپلې پښې په خپله نړول

دي. ځان ته په خپل کور کښې پخپله اور لګول دي، پخپله زرخېزه خاوره غېر خوشحالول دي. لکه چې سلیم وائي:

رائیستلے دي په چا پسې صمصام دے

دا دې لېچې دي کم عقله دا دې قام دے

ته دَ بل عیبونه مهٔ شمېره ځان پټ کړه

دا چې ته چرته ولاړ یې دا حمام دے...۵۰

سلیم کهٔ یؤ خوا دَ پښتونولۍ اؤ دَ خپلې خاوړې سره دَ مینې درس ورکړے نو بل خوا ئې دَ دې معاشرې په بې ضمیره رهبرانو اؤ وطن خرڅه مشرانو هم دَ تېرهٔ طنز غشي ورولي دي لکه چې وائي:

مینه دَ وطن مې کهٔ دَ ټولو مینو میره ده

مینه دَ انسان مې هم په زړهٔ کښې عالمګیره ده

اوس خو قافله هم دَ رهبر سره رهزنه شوه

دا معاشره جوړې دَ سېلمې بې ضمیره ده

څهٔ به دې زړګیه دَ ارزو ښاریه ودانه شي

ته کهٔ نوشیروان یې خو بختکه دې وزیره ده...۶۹

هر کله چې په ملک یا قوم غېرو حمله کړې ده نو دَ ټولو نه اول دَ هغه ملک یا سیمې شاعر ترجمان جوړ شوے دے. اول ئې دَ خپل قوم اصلاح کړې ده اؤ بیا ئې په کښې دَ ننګ، غېرت اؤ شجاعت جذبه راپارولې ده اؤ قوم ئې دَ دوشمن مقابلې ته تیار کړے دے. ځکه خو سلیم ګویا کېږي چې:

داسې کلي کښې مې خلقه بود و باش دے

چې تاریخ ئې خون الود اؤ دلخراش دے

کهٔ غازي دے کهٔ عالم زما دَ خاوړې

پهٔ عالم کښې ئې شناخت دَ بدمعاش دے

دَ جهان دَ استعمار لاس کښې لوبېږي

هر باچا زما دَ ملک باچا دَ تاش دے...۱۹۴

غرض دا چې سېف الرحمان سليم يؤ قام پرست شاعر ؤ. دَ خپل قوم احساس ئې دَ ژوند پهٔ هر ډګر نهٔ يوازې محسوس کړے دے بلکې دَ اولس سره پهٔ هر غم او تکليف کښې شريک شوے دے. چرته چې پښتنې خاوړې ته چا پهٔ بد نظر کتلې دي نو سم دَ تقه ئې پرې اولس راخبر کړے دے. دَ شاعر کار او زمه داري هم دغه وي چې دَ معاشرې پهٔ صحيح ډول ترجماني وکړي او سليم خپله دغه اهمه فريضه ښهٔ پهٔ روڼ تندي او پهٔ صدق سره ادا کړې ده. کهٔ هغهٔ دَ تاريخ پهٔ کتابونو کښې پاڼې لټوي چې:

شايد ذکر دَ پښتون پهٔ کښې پېدا شي

کتابونه دَ تاريخ راته پراتهٔ دي

پهٔ وينا ئې چې منبر فخر کولو

هغه خلق دې خدائې وبخښي اوس مړهٔ دي...۱۴۸

نو نن هغهٔ سليم پخپله دَ تاريخ يؤ باب جوړ شوے دے. هم دغه وجه ده چې کهٔ سليم پهٔ خاوړو کښې هم پروت دے ولې دَ هغهٔ شخصيت نن هم " دَ وړو وړو خدايانو دې بنده کړم " پهٔ شکل کښې مجسّم ښکاري.

حواله جات و کتابيات